مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۸ / ۲۶

# پنجشیر ته

خلک هغه وخت پخپل ژوند باندي تنګ شي
پیداینت سره چي سم د سړي جنګ شي
جنګ د ژوند لپاره نه دی، هدف بل دی
جنګ د لوټ او چور لپاره یو نیرنګ شي
کوم یو قام چي جنګ د ځان افتخار بولي
جګړه مار قوم په قومونو کي بدرنګ شي
د ننګ نښه که کوم قام ته پرون جنګ وو
نن بیا پوهه، معرفت د هغه ننګ شي
که جنګ هم وي خو یو وخت وي چي به تېر شي
داسي نه چي جنګ د ټول عمر فرهنګ شي
که پرنګ دلته جنګ کړی، ګیله نشته
بده دا چي خپل افغان درته پرنګ شي
تر دې لویه بدمرغي به د قام څه وي
چي یوه طایفه د بل په وینو رنګ شي
لوی لعنت دې وي پر هغه افغانانو
چي یو برخه صفویان شي بل اورنګ شي
د ۲۰۲۱ کال د اګست ۲۴ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ